سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۰/۰۷/۱۸م

# د افغانستان په اړه د پاکستان یرغلګر سیاست لابربنډېږي

د روان کال د جولای په ۱۶ مه د پاکستان د دوزخي سازمان ای ایس ای پخواني مشر متقاعد جنرال حمید ګل د یوه پاکستاني خصوصي تلویزیون ای ار وای سره په مرکه کې وایی « ناټو په افغانستان کې ماتي خوړلي او اوس کابل د پاکستان لپاره تیاره شوې ډوډۍ ده چي باید وخوړل شي ». حمید ګل نور هم په مرکه کې وړاندې ځي او وایي «پاکستان پلوه وسلوال طالبان بریالي دي او راتلونکی حکومت به په افغانستان کې د دوی وي چې د پاکستان خواخوږي دي»

همدارنګه نوموړي دا خبره چي ګواکي پنجابي طالبان هم شته رد کړه. ده زیاته کړه «د پنجابي طالبانو اصطلاح غلطه ده. په پنجاب کې چې څوک نا امني پیدا کوي هغه ورانکاري او د ده په وینا د هند جاسوسان دي. حمید ګل وسله والو طالبانو ته په بیا بیا د سپېڅلو مجاهدینو خطاب وکړ او ویې ویل چې سپېڅلي مجاهدین پوهېږي چې د جهاد او مقصد ځای افغانستان دی پاکستان نه دی.»

حمید ګل په یادو شویو خبرو هم بسیا نه کوي وړاندې ځي او د اسلام آباد چاروکو ته سلا ورکوي «چي له افغانستان څخه د شوروي اتحاد له وتلو وروسته حالت تکرار نه کړي او دا ځل وار دمخه د افغانستان لپاره منځمهالی حکومت جوړ کړي»

څو ورځې مخکي هم د آریانا په وینا د ادیان نیوز د خبر له مخې، جنرال حمید ګل د الجزیرې رسنی سره په مرکه کې ویلي وو، طالبان به خپل اساسي قانون ولیکي او په دې اړه نه ښایي چې څوک د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي ځکه چې افغانان په کورنیو چارو کې د بل لاسوهنه ښه نه ګڼي!

حمید ګل بل ځای وړاندوینه کوي چې د کرزي دولت به ژر ختم شي او امریکا به د کرزي ۴۰۰ یا ۵۰۰ اړوندان اروپایي هېوادونو ته واستوي. افغانستان به د طالبانو او یا د مجاهدینو د بلې ډلې لخوا اداره شي او د نویو واکمنانو ترمنځ به هیڅ ډول کړکېچ نه وي !

د حمید ګل په اند یوازې پاکستان د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهني او پر افغان هېواد د یرغل حق لري. دا چې دا حق پاکستان ته ولې او څنګه ترلاسه دی حمید ګل او د پاکستان نور واکمنان یې د کومې څرګندوني په کیسه کې هم نه دي!

همدارنګه د روان عیسوي کال د جولای په دریېمه د پاکستان د مسلم لیګ (ن) ګروپ مشرنواز شریف په لاهور کې د خبریالانو یوې غونډې ته په وینا کې ویلي وو:« ترهګري د پاکستان له بهرنی پالیسی او ملي سیاست سره نېغ په نېغه ارتباط لري او دا تګلاري په اسلام اباد کې جوړېږي»

« رحمان مالک د پاکستان د کورنیو چارو وزیر څو ورځې مخکي وایي چې ناټو او افغان دولت د ترهګرو مخه هلته افغانستان کې نشي ډب کولای او ترهګر دي غاړه پاکستان ته رااوړي، لکه څو ورځې وړاندې چې له افغانستانه را اوښتو ترهګرو په مومندو کې بمي چاودنه وکړه او په دې چاودنه کې یې ګڼ وګړي ووژل. » هغه متل دی چې وایي موږ پور غواړو دوی نور غواړي !

تولـه نړۍ او افغانستان، پاکستان ته وایي چې ترهګر دې خپله خاوره کې دننه وتړه، روزنه او پالنه یې بس کړه، د ترهګرو خوندي ځالي وړنګ کړه او له افغانستانه غلی شه لاس واخله ؛ خو پاکستان هغه په ولسي ژبه لکه شیشکه هم لاس لګوی، هم کوکارې وهي؛ هم ترهګر پالي او افغانستان ته یې رالیږي او هم نارې وهي چې داسي کار دوی نه بلکي افغانستان کوي؟!

پاکستان داسي چلن له هندوستانه سره هم کوي. د جولای په ۱۶ مه د هند او پاکستان د بهرنیوچارو وزیرانو خبرې ناکامې شوې او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر قریشي ادعا وکړه چې هند د دوو هېوادونو ترمنځ خبرو ته ذهناً تیار نه وو. ده وویل د هند او پاکستان ترمنځ په خبرو کې بدبختي دا ده چې کله د دواړو هېوادونو په خبرو کې پرمختګ وشي نو په وروستیو شیبو کې یوه ټکه پرېوزي. نوموړي د خبرو د ناکامۍ پړه پر هند وراچوله.

خو زموږ ځیني شنونکو بیا په سادګی سره وایي حمید ګل اوس متقاعد دی او ښایي د نوموړي خبرې د دوی په ګومان د دولت رسمي پالیسي نه وي. خو پوښتنه دا ده چې آیا د افغانستان په اړه د پاکستان په سیاست او ستراتیژۍ کې کوم بدلون پیښ شوی؟ د پاکستان دولت له ملاتړ پرته ترهګر په یوازې ځان، په افغانستان کې ورځ تربلې زیات د دومره ورانیو جوګه کېدی شي؟ د متقاعدو کسانو لکه حمید ګل، پرویز مشرف او نورو سربېره، په دولت کې مطرح کسان او د مرکزي دولت غړي هم، د افغانستان په اړه د پاکستان همغه زوړ او یرغلګر سیاست چلوي!

ما په یوې بریښناپاڼه کې د یوه افغان ورور چې نوم یې نه اخلم دا اندیښنه ولوسته چې هندوستان په دې لټه کې دی چې پاکستان تجزیه کړي. خو زه دې ورور ته وایم چې پاکستان لکه اسراییل د سیمې سرطان او له افغانستان سربېره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

سيمي او نړۍ ته د ترهګرو د ليږد وسيله ده، ترڅو چي دا سرطان عمليات نشي او د نړيوال تروريزم دا مرکز دړې وړې نشي نه افغانستان او نه نړۍ ارامېدلای شي !
د پاکستان په تجزيي سره افغانستان نه خواريږي، افغانان هم ددغه بي مورو پلاره هېواد تجزيه غواړي. د پاکستان په تجزيه کي د هند په هلو ځلو نه يوازي نه ښايي چي افغانان خپه شي بلکي افغانان بايد د داسي هلو ځلو ستاينه او ملاتړ هم وکړي!
ځني نور افغانان بيا چي ځانته روڼ اندي هم وايي بريښناپاڼي او رسنۍ يي د طالبانو په ستاينه ډکي کړي او د پاکستان په وړاندي يي د بېوسی، زاری او غلامی لار خپله کړې! دوی لکه د توپان مرغان د هوا په بدلون پوهيږي او له کوم لوري چي شمال لګيږي همغه خوا ور سره ځان کږوي.
خو زه دغه ډول روڼ اندو ته وايم: تېر ځل هم د طالبانو له راتګ څخه مخکي، ای ايس ای او د پاکستان نورو واکمنانو افغانانو ته ويل چي طالبان خپله حکومت نه غواړي. دوی د پخواني پاچا محمدظاهرشا د بيا واکمنی لپاره جنګيږي. خو کله چي طالبانو پر حکومت منګولي ټينګي کړي نو بيا زړې خبرې نه وي او افغانستان د پاکستان پنځمه صوبه وه. نن بيا همغه زړه لوبه روانه ده، موږ بايد هرځل ونه غوليږو. خواره دې شي مينځه چي د مينځي کالي وينځي !

پای

اخځونه :
ـ افغان جرمن انلاين او ټاند بريښنا پاڼي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ